شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۹۴ ګڼه / شنبه د محرم‌الحرام ۹ مه ۱۴۴۷ هـ.ق / د چنګاښ ۱۴مه ۱۴۰۴ هـ.ش / د جولای ۵ مه ۲۰۲۵ میلادي

په کور دننه د روسیې له لوري د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې اقدام وستایل شو

وروسته له هغې چې روسیې په یوه مهم ډیپلوماتیک اقدام کې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژاند، په کور دننه د اسلامي امارت لوړ پوړو چارواکو، سیاسي څېرو او هېوادوالو د دغه پرمختګ هرکلی کړی او تمه لري، چې نور هېوادونه هم ورته ګام واخلي.

د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح‌الله مجاهد د روسیې پرېکړه «مثبت او مهم ګام» بللی او ویلي یې دي: "موږ د روسیې له دغه اقدام څخه هرکلی کوو، دا کار به د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره زمینه برابره کړي."

قطر کې د اسلامي امارت سفیر محمد سهیل شاهین له یوې روسي رسنۍ سره په مرکه کې ویلي، چې ځینې نور هېوادونه به هم د روسیې د پرېکړې په تعقیب اسلامي امارت په رسمیت وپېژني.

نوموړي زیاته کړې: "ښایي په راتلونکو اوونیو یا میاشتو کې ښه خبرونه واورو."

د بهرنیو چارو وزارت درېیم سیاسي رییس محمد ذاکر جلالي ویلي، اسلامي امارت ثابته کړه، چې د سیمې او نړۍ هېوادونو سره یو داسې تعامل ته داخلېدای شي، چې د ټولو ګټې په کې... ۳مخ

ملا برادر:

ایکو سازمان دې د اسلامي امارت رسمیت پېژندنې په لور کوټلي ګامونه واخلي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ایکو سازمان ۱۷مې سرمشریزې ته په وینا کې ویلي، د افغانستان اسلامي امارت د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست په پایله کې د روسیې له لوري په رسمیت وپېژندل شو، چې د دې اقدام هرکلی کوو.

ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان له غړو هېوادونو غوښتي، چې د افغانستان مشروع سیاسي واقعیت درک کړي او د روسیې په څېر دې د رسمیت پېژندنې په لور عملي او مثبت ګامونه واخلي.

ملا برادر ویلي، افغانستان د اصولو پر بنسټ د پرمختګ، همکارۍ او

سیمه ییز اتصال برخه کې فرصتونه رامنځته کړي او هڅه کوو، چې د ایکو سازمان له هېوادونو سره د ګډو اقتصادي، فرهنګي او ستراتیژیکو پروژو له لارې دا فرصتونه عملي کړو.

نوموړي زیاته کړې، د ایکو سازمان سرمشریزه د غړو هېوادونو ملتونو ترمنځ د سیمه ییزې همکارۍ، متقابل تفاهم او پرمختګ لپاره یوه مهمه او د هیلو روښانه نښه ده.

د یادونې ده، چې د اقتصادي همکاریو سازمان(«ایکو») ۱۷مه سرمشریزه د لسو غړو هېوادونو د ولسمشرانو او لوړ پوړو چارواکو په ګډون پیل شوه.

مولوی ذبیح الله مجاهد:

برخورد با مهاجران افغان نباید بدون هماهنگی با کابل صورت گیرد

مولوی ذبیح الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی اعلام کرده است که حکومت سرپرست افغانستان آماده گفت‌وگو با آن‌دسته از کشورهایی‌ست که افغان‌ها در آن‌ها اقامت دارند.

وی افزود که برخورد با مهاجران افغان نباید بدون هماهنگی با کابل صورت گیرد و تأکید کرده که امارت اسلامی خواهان ایجاد روابط و گفت‌وگو در این زمینه با کشورهای میزبان مهاجران است.

او این سخنان را در واکنش به اظهارات اخیر وزیر داخله جرمنی بیان کرده که گفته بود دولت آن کشور قصد دارد با مقام‌های امارت اسلامی در مورد بازگرداندن مهاجرانی... ص۳

ملا خیر الله خیرخواه:

امارت اسلامی متعهد به بازسازی و توسعه مناطق محروم و دور دست است

ملا خیر الله خیرخواه وزیر اطلاعات و فرهنگ در مراسم آغاز کار پروژه قیر ریزی سرک شین دند و پشت کوه و ساخت تعمیر جدید ولسوالی پشت کوه گفت، که امارت اسلامی متعهد به بازسازی و توسعه مناطق محروم و دور دست کشور است.

به گزارش خبرنگار آژانس باختر؛ در این مراسم وزیر اطلاعات و

فرهنگ، در صحبت هایش آغاز کار این پروژه را گام نیک دانست و گفت که امارت اسلامی متعهد به بازسازی و توسعه مناطق محروم و دوردست کشور است.

وی افزود: پشت کوه از جمله مناطقی است که نیاز جدی به توجه و سرمایه‌گذاری داشته و ما تلاش داریم با تطبیق این‌گونه پروژه ها، زمینه رفاه و خدمات بهتر... ص۳

افغانستان کې د امریکا شل کلن ماموریت څېړل کېږي

د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون له افغانستانه د خپلو سرتېرو په نا منظم ډول د ایستلو تر بهیر څلور کاله وروسته دغه بهیر او افغانستان کې خپله شل کلنه جګړه څېړي.

دا څېړنې د افغانستان او ویتنام له جګړو د مهمو درسونو اخیستو او د راتلونکو تېروتنو د مخنیوي په موخه ترسره کېږي.

د پنټاګون ویاند هم منلې چې یوه ځانګړې څېړنیزه ډله به له جولای میاشتې په رسمي توګه د امریکا د ۲۰ کلن پوځي حضور د پایلو د ارزونې لپاره خپل کار پیل کړي. ۲مخ

سرمقاله

نوره نړۍ هم باید د روسیې لاره خپله کړي!

تېره ورځ په کابل کې د روسیې سفیر؛ د بهرنیو چارو د وزیر ښاغلي مولوي امیر خان متقي په حضور کې د روسیې هېواد له خوا د اسلامي امارت په رسمیت پېژندلو پرېکړه رسماً ابلاغ کړه. دا چې اسلامي امارت پر خبرو اترو باور لري او دا چاره یې په عمل کې هم ثابته کړې، نو همېشه یې په وار، وار پر ګاونډیو، سیمه ییزو او نړیوالو هېوادونو غږ کړی، چې راشئ ټول خپلمنځي مشکلات د تفاهم او ډیپلوماسي له لارې حل کړو. پښتو متل دی، وای کومه غوټه چې په لاس خلاصیږي، خولې ته یې څه حاجت!؟

نو اسلامي امارت هم پر دې باور دی، چې له هر چا سره، هر ډول موضوعات د خبرو له لارې حل کېدای شي، فقط چې دواړه جانبین حق ته غاړه کېږدي. د موجوده او مروجو نړیوالو اصولو پر اساس، هر جانب خپل مسئولیتونه او ورسره خپل حقوق لري. نو د نړیوال نظم ساتلو لپاره هر هېواد مکلف دی، چې خپل ټول مسئولیتونه اداء کړي، هیچا ته ضرر ونه رسوي او د هیچا په داخلي چارو کې لاسوهنه ونه کړي. همدغه راز؛ په مقابل کې نورو هېوادونو ته هم لازمه ده، چې د یاد هېواد په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړي، حقوق یې تلف نه کړي او بد چلند ورسره ونه شي. څرنګه چې اسلامي امارت له خپله طرفه همېشه اصرار کړی، چې دغه نړیوال نظم ته ژمن یو، د هیچا په کورنیو چارو کې مداخله نه کوو، هیچا ته اجازه نه ورکوو، چې زموږ خاوره د بل چا پر خلاف استعمال کړي، هر ځای د حق ملاتړ او د ظلم مخالفت کوو، د هېواد داخل کې هم کاملاً امنیت او عدالت تأمین دی، د ټولو هېوادوالو اساسي حقوق خوندي او سر، مال او ناموس یې په امن دی، پر ټول هېواد واحد، قوي او مرکزي نظام حاکم دی، پر اقتصاد محوره او سوله ییز بهرني سیاست باور لرو او د ټولې نړۍ خیر غواړو. او دا یوازې تشې ادعاوې نه دي؛ بلکې اسلامي امارت دا هر څه په عمل کې هم ثابت کړي.

ځکه خو نړیوالو ته هم لازمه ده، چې د اسلامي امارت د نېک دریځ او غوره چلند په مقابل کې؛ دوی هم له اسلامي امارت سره ښه تعامل وکړي، حقوق یې ومني، له بندیزونو لګولو، بې ځایه دښمني او زهرجنو تبلیغاتو لاس واخلي او نړیوالو اصولو ته خپله ژمنتیا په عمل کې ثابته کړي. ۳مخ

د غوري سمنټو تولیدات د تېر کال په پرتله ۲ برابره زیات شوي

د بغلان ولایت د غوري سمنټو کارخونې د روان ۱۴۰۴ کال په لومړیو درېیو میاشتو کې نږدې ۳۰۰ میلیونه افغانۍ عاید راټول کړي دي.

د یادې کارخونې مسئول انجنیر شفیع الله واحدي باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د روان کال له پیل څخه تردې دمه په یاده کارخونه کې ۴۸ زره ټنه کلینکر سمنټ تولید شوي، چې له پلور څخه یې ۲۸۰ میلیونه

افغانۍ عواید راټول او د دولت خزانې ته سپارل شوي دي.

د نوموړي پر وینا اوس په دې کارخونه کې هره ورځ ۶۰۰ ټنه سمنټ تولیدېږي، چې د تېر کال په پرتله ۲ برابره زیات شوي دي.

په ورته وخت کې د غوري سمنټو د کارخونې مسئول له خلکو وغوښتل چې په ساختماني پروژو کې د کورنیو سمنټو په ځانګړي توګه غوري سمنټو په کارولو سره د ملي تولید ملاتړ وکړي... ۳مخ

هرات کې هره ورځ پر زرګونو کډوالو خواړه وېشل کېږي

له ایرانه د افغان کډوالو د بهیر په چټکېدو سره یو خیریه بنسټ د هرات په اسلام‌کلا بندر کې هره ورځ پنځه‌زره راستنېدونکو کډوالو ته چمتو شوي خواړه او معدني اوبه وېشي.

د یادونې ده، دغه پروګرام پرون د «اناردرې خلکو خیریه بنسټ» له لوري پیل شوی دی.

د اناردرې خیریه بنسټ له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي: «په ویاړ سره اعلان کوو چې د اناردرې د خلکو خیریه بنسټ له لوري څه باندې پنځه‌زره راستنېدونکو افغانانو ته د ګرمو خوړو او سړو اوبو وېشلو لړۍ پیل شوه.» ۳مخ

تغییر موازنه‌ها؛ مسکو صدای مشروعیت کابل را شنید ۲

د روسیې رسمیت پېژندنه؛ د اسلامي امارت د عمیق او تدریجي سیاست پایله! ۲

د ا.ا.ا په رسمیت پېژندل؛ د حقیقت منل او د همکارۍ نوی باب ۲

خوست کې د آسیا په کچه ورزشي کمپلیکس جوړېږي

د خوست ښار په جنوب ختیځه برخې په ۱۰ جریبه ځمکه کې د ورزشي کمپلیکس د جوړولو چارې پیل شوې، چې د فوټبال، والیبال، ټینیس او جیم لپاره به په نړیوالو معیارونو برابر لوبغالي ولري.

په همدې موخه په جوړو شویو مراسمو کې د افغانستان د بدني روزنې او ورزش لوی رئیس احمدالله وثیق، د فوټبال فدراسیون مشر یوسف کارګر، د سیلاب خیریه بنسټ مشر سید احمد سیلاب، د جوړوونکي خیریه بنسټ مسئول نجیب تلاش، د خوست مرستیال والي مولوي محبوب شاه قانت، امنیه قوماندان عبدالله حماد، د اطلاعاتو او فرهنګ رییس مولوي شاه حسین مسجدي، ګڼو ولایتي او د ورزش په برخه کې مرکزي مسئولینو، لوبغاړو او عامو خلکو ګډون درلود.

د افغانستان د بدني روزنې لوی رئیس مولوي احمدالله وثیق په خپلو خبرو کې د دغه کمپلیکس جوړول لویه لاسته راوړنه... ۳مخ

د ا.ا.ا په رسمیت پېژندل؛ د حقیقت منل او د همکارۍ نوی باب

ابو عمر

د افغانستان پـه هکلـه د روسيې وروسـتی اقـدام یعنـې د اسـلامي امـارت په رسـمیت پېژندنـه، یـوازې یـو سیاسـي اعـلان نـه؛ بلکـې د نړیـوال سیاسـت پـه ډګـر کـې یـو تاریخـي بدلـون بلـل کېدای شـي. دا پرېکړه له یـوې خوا د افغانسـتان د ملـت د پایداره مبـارزې اعتـراف دی او لـه بلـې خـوا د سـیمې او نـړۍ لـه خـوا د واقعیتونو د منلـو پیل دی.

روسـیه چـې پخـوا یـې لـه لوېدیـځ سـره پـه همغـږۍ زمـوږ پـه خـاوره کـې لـه سیاسـي، اسـتخباراتي او پوځـي لاسـوهنو څخـه هیـڅ دریـغ نـه کاوه، اوس دې حقیقـت تـه رسـېدلې، چـې افغـان ملـت د تـوپ، ټانـک او بـم پـه زور نـه تسـخېرېږي او نـه د وارداتـي طرحـو لـه لارې د خپلـې لارې څخـه منحرفېـږي. لـه همـدې املـه، د زور لـه ژبـې د تفاهـم ژبـې تـه راکوزېـدل، یـو سـتر بدلـون او د تفکـر بدلېدلـو نښـه ده، چـې د روس لـه خـوا ترسـره شـوه.

د اسـلامي امـارت لـه بیـا واکمنېـدو سـره، پـه داسـې حـال کـې چـې نړیوالـو لـه شـاوخوا څلوېښـت کلنـې جګـړې، مداخلـې او اشـغال وروسـته هـم د یو نـوي بحران تمـه لرلـه، افغانسـتان برعکـس د امـن، نظـم، اداري شـفافیت او دینـي ارزښـتونو پـر بنسـټ یـو باثباتـه حالـت تـه ورسـېد. دا هغـه لاسـته راوړنـې او حقیقتونـه دي، چـې هـر چاتـه پـه خپلـه د منلـو وړ دي او نړیـوال تـرې سـترګې نـه شـي پټـولای.

د روسـیې دا اقـدام، نـه یـوازې یـو سیاسـي تحـول بلـل کېـږي؛ بلکـې د اقتصـادي، ډیپلوماتیکـو، فرهنګـي او امنیتـي همکاریـو لپـاره د نویـو دروازو پرانیسـتلو پـه معنـی هـم دي. دا تصمیـم پـه داسـې حـال کـې نیـول کېـږي، چـې غربـي هېوادونـه لا اوس هـم د اسـلامي امـارت پـه هکلـه د فشـار، مشـروطیت، دوه ګونـي سیاسـت او زړو ناکامـو تجربـو تکـرار تـه دوام ورکوي.

د افغـان ولـس لپـاره دا پېښـه یـو هیلمـن پیغـام لـري، کـه یـو ملـت د خپلـې عقیـدې، ارزښـتونو او ملـي ګټـو پـر بنسـټ ودریـږي، نـو نړیـوال یـې د تسـلیمېدو پـر ځـای، منلـو تـه اړ کېـږي. د اسـلامي امـارت د حکومتولـۍ مثبتـو اړخونـو تـه کـه وکتـل شـي، نـو دا بـه جوتـه شـي، چـې اسـلامي امـارت د ولـس د ارزښـتونو انعـکاس دی، نـه د بهرنیانـو د اجنډاوو نتیجـه.

پـه حقیقـت کـې د روسـیې دا د رسـمیت پېژندنـې ګام، چـې داسـلامي پـه هکلـه یـې پورتـه کـړ، لـه ځانـه سـره دا پیغـام لـري، چـې عـزت، خپلواکـي او ملـي حاکمیـت د نړیـوال تعامـل بنسـټ کېـدای شـي، نـه بهرنـی فشـار، مشـروطې مرسـتې یـا فرمایشـي طرحـې. کـه نـور هېوادونـه هـم د روسـیې پـه څېـر، لـه سیاسـي تعصبونـو او دښـمنیو پرتـه واقعیتونـه ومنـي، نـو دا سـیمه نـه یـوازې لـه کړکېچـه راوتلـی شـي؛ بلکـې افغانسـتان بـه وکـولای شـي د یـو خپلـواک، باعزتـه او باثباتـه هېـواد پـه توګـه خپلـه نړیوالـه ونـډه ادا کړي.

پـه پـای کـې ویـلای شـو، چـې کـه د اسـلامي امـارت د رسـمیت پېژندنـې بهیر د اخـلاص، تفاهـم او متقابـل درنـاوي پـر بنسـټ روان شـي، نـو دا بـه نـه یـوازې د افغانسـتان لپـاره، بلکـې د ټولـې سـیمې لپـاره د ثبـات، پرمختـګ او امنیـت یـو نـوی فصـل پرانیـزي. دا یـو ارزښـتناک فرصـت دی، چـې بایـد د یـو واقعـي تحـول د پیـل پـه توګـه ورڅخـه ګټـه واخیسـتل شـي، نـه دا چـې د سیاسـي سـیالیو د وسـیلې پـه توګـه وکارول شـي.

افغانستان کې د امریکا شل...

د پنټاګون ویاند ویلي: «موږ غواړو داډ ترلاسه کړو، هغه څه چې په ویتنام او بیا افغانستان کې وشـول، هېڅکله بیا تکرار نه شي. په کابل کې د سفارت له بام څخه د چورلکو الوتل، د ویتنام انځورونه یادوي؛ یو پای چې په هیڅ ډول مطلوب نه و.»

هغه زیاته کړې، چې دا ارزونې به په درېیو کچو یعنې تکتیکي، ستراتیژیکو او ان د جمهوري ریاست په کچه ترسره شي.

کارپوهان په دې باور دي، چې د امریکا دغه اقدامات به د دې هېواد په راتلونکو ښکېلتیاو کې اغېزمن تمام شي.

د سیاسي چارو شنونکي، فضل‌الرحمان اوریا ویلي: «دا چې امریکا په افغانستان کې شل کلن پوځي حضور او ماتې ارزوي، دا یو ښه کار دی او د امریکا لپاره عبرت دی، څو په راتلونکي کې پر افغانانو له زور او تاوتریخوالی کار وانه خلي او له افغانستان سره سیاسي او اقتصادي تعامل وکړي.»

پوځي کارپوه، صادق شینواري ویلي: «امریکا او ناټو په تېرو دوو لسیزو کې په افغانستان کې تېروتنې کړي. دوی کولای شي، چې د دغو تېروتنو د جبران لپاره د خبرو اترو لاره غوره کړي.»

اسلامي امارت تر دې مهاله دغې څېړنې ته رسمي غبرګون نه دی ښودلی؛ خو د ۲۰۲۱ کال په سیاسي بدلونونو کې د امریکا د رول، د دوحې د هوکړې او د مخکیني حکومت د ژر را پرځېدو په تړاو لا هم په نړیواله کچه بحثونه کېږي.

تغییر موازنه‌ها؛ مسکو صدای مشروعیت کابل را شنید

رحمت الله فیضان

در دیـدار رسـمی میـان مولـوی امیرخـان متقـی، وزیـر امـور خارجـه امـارت اسـلامی افغانسـتان، و جنـاب دیمیتـری ژیرنـوف، سـفیر فدراسـیون روسـیه در کابـل، سـفیر روسـیه رسـماً تصمیـم دولـت متبـوع خـود مبنـی بـر بـه رسـمیت شـناختن امـارت اسـلامی افغانسـتان را بـه دولـت افغانسـتان اعـلام نمود.

سـفیر فدراسـیون روسـیه، ایـن اقـدام را گامـی تاریخـی و سرنوشت‌سـاز در مسـیر تحکیـم و تعمیـق مناسـبات دوجانبـه میـان دو کشـور دانسـت و بـر آمادگـی کشـور متبوعـش جهـت گسـترش همکاری‌هـای همه‌جانبـه بـا افغانسـتان تأکیـد ورزیـد.

وزیـر امـور خارجـه کشـور بـا اسـتقبال گـرم از ایـن تصمیـم واقع‌بینانـه و راهبـردی، آن را نقطـه آغـاز فصـل نوینـی از روابـط مبتنـی بـر احتـرام متقابـل، حسـن نیـت و تعامـل سـازنده میـان افغانسـتان و روسـیه توصیـف کـرد. ایشـان افزودنـد کـه ایـن اقـدام، نه‌تنهـا در تاریـخ روابـط دوجانبـه یـک تحـول مهـم و مثبـت محسـوب می‌شـود، بلکـه می‌توانـد به‌عنـوان الگویـی الهام‌بخـش بـرای سـایر کشـورها در مسـیر تعامـل مسـئولانه و مسـتقل بـا دولـت افغانسـتان قـرار گیـرد.

تصمیـم فدراسـیون روسـیه به‌عنـوان نخسـتین اقـدام رسـمی یـک قـدرت جهانـی در جهـت بـه رسـمیت شـناختن حاکمیـت امـارت اسـلامی، دارای بـار سیاسـی و نمادیـن عمیقـی اسـت کـه می‌توانـد سـرآغاز موجـی تـازه از تعامـلات دیپلماتیـک، اقتصـادی و فرهنگـی بـا جامعـه جهانـی باشـد.

ایـن تصمیـم، فرصت‌هـای ارزنـده‌ای را بـرای سـرمایه‌گذاری مشـترک، توسـعه همکاری‌هـای زیربنایـی و ارتقـاء مناسـبات اقتصـادی فراهـم می‌سـازد؛ به‌ویـژه در شـرایطی کـه افغانسـتان در حـال عبـور از چالش‌هـای اقتصـادی و در پـی احیـای زیرسـاخت‌های ملـی خـود می‌باشـد.

از منظـر ژئوپلیتیـک، فدراسـیون روسـیه بـا اتخـاذ ایـن تصمیـم هوشـمندانه، نقـش پیشـگامانه‌ای را در نظـم نویـن منطقـه‌ای ایفـا کـرده و زمینه‌سـاز تقویـت ثبـات و امنیـت پایـدار در منطقـه گردیـده اسـت. ایـن اقـدام، در عیـن حـال کـه ممکـن اسـت بـا برداشـت‌های متفـاوت برخـی قدرت‌هـای غربـی مواجـه شـود، امـا بیانگـر شـجاعت سیاسـی و اسـتقلال دیپلماتیـک کشـوری اسـت کـه مصالـح راهبـردی و واقع‌گرایانـه را بـر محاسـبات مقطعـی ترجیـح داده اسـت.

در شـرایط کنونـی، نـگاه جهانیـان بیـش از پیـش متوجـه ایـن پرسـش اسـت کـه آیـا سـایر کشـورها نیـز در مسـیر واقع‌گرایـی سیاسـی و تعامـل محترمانـه گام خواهنـد نهـاد یـا نـه؟

آنچـه مسـلم اسـت، تاریـخ، قضـاوت خواهـد کـرد کـه چـه کشـورهایی پیشـگام درک واقعیت‌هـا و سـازندگی روابـط آینده‌محـور بوده‌انـد.

د روسيې رسمیت پېژندنه؛ د اسلامي امارت د عمیق او تدریجي سیاست پایله!

م حمادشیرزاد

دا چـې نړیـوال سیاسـت بدلـون موندلـی، اړیکـې او تعامـل یـو لـه بـل سـره لـه هـر څـه مهـم ګرځېدلـي، څـوک د جیوپولیټیکـي حیثیـت پـر اسـاس او څـوک د نـورې زبرځواکـۍ پـر اسـاس اړیکـې یـو لـه بـل سـره ښـې کـوي، خـو دومـره ویلـی شـو، چـې د نړیـوال کېدلـو لپـاره، اقتصـادي، حقوقـي او نـورو ملاتړونـو ترلاسـه کولـو لپـاره رسـمیت ډېـر اړیـن او مهـم ګرځېدلـی، رسـمیت د یـو هېـواد لپـاره د نـورې نـړۍ د هـر رنګـه اړیکـو دروازې هغـه کـه اقتصـادي وي، سیاسـي وي او یـا هـم نـور ملاتړونـه وي خلاصـوي او هغـه هېـواد پـه نړیـوال سـټیج کـې لـه انـزوا او نـورو بندیزونـو څخـه تـر ډېـرې کچـې بـچ کېـږي.

اسـلامي امـارت پـه تېـرو څـو کلونـو حکومتولـۍ کـې د خپـل عمیـق، ژور، غـوره او تدریجـي سیاسـت پـه پایلـه کـې ډېـر یـو لـوی او ګرنـدی مـزل ترسـره کـړی، داسـې مـزل چـې پـه ډېـرې خاموشـۍ او سـړې سـینې سـره ترسـره، خـو پایلـې یـې بیخـي غوښـنې او مثمـرې دي، لـه ډېـرو هېوادونـو سـره پـه رسـمي کچـه تعامـلات روان دي، سـفارتونه خـلاص شـوي، زیاتـرو هېوادونـو کـې رسـماً سـفیران منـل شـوي، بیـرغ او نـور موضوعـات حـل شـوي، د سـیمې پـه کچـه د چیـن، ازبیکسـتان، ایـران، پاکسـتان، قزاقسـتان، آذربایجـان او لـه داسـې نـورو سـره اړیکـې پـه ښـه توګـه روانـې دي او همـدا راز د جیوپولیټیـک حـوزې لـه مخـې یـو مهـم هېـواد ترکیـې هـم د اسـلامي امـارت سـفیر رسـماً ومانـه او تـر دې چـې د اروپـا پـه ناروې کـې د افغانسـتان سـفارت اسـلامي امـارت تـه سـپارل شـوی او د حاکـم نظـام استازی یـې سرپرسـتي پـر مـخ وړي، دا او دې تـه ورتـه نـورې مهمـې کړنـې د همـدې عمیـق او تدریجـي سیاسـت پایلـې دي او د دې بریـا تـر شـاه د ښـاغلي متقـي، ځـوان لیډرشـیپ او مسـئولینو هڅـې دي.

تـازه د نـړۍ یـو سـتر هېـواد روسـیې، هغـه چـې د قـوت او همـدا راز د اقتصـاد لـه پلـوه هـم مهـم دی او د نـړۍ دوه قطبیـت کـې د یـو رأس هـم دی، نـن پـه علنـي ډول د اسـلامي امـارت حکومـت پـه رسـمیت وپېژانـده، دا چـې د دوی رسـمیت پېژندنـه د اسـلامي امـارت او بیـا پـه خـاص ډول د افغانسـتان لپـاره یـوه سـتره سیاسـي بریـا ده او همـدا د متـوازن سیاسـت او غـوره ډیپلوماسـۍ پایلـه هـم ده، چـې یـاد هېـواد داسـې یـو موقـف نیسـي، چـې نـوره نـړۍ یـې بـل طرفتـه ده، یـاده رسـمیت پېژندنـه بـه پـه سـیمه، نړیوالـه کچـه او پـه خپلـه پـه اسـلامي امـارت کـوم اغېـر وکـړي او یـا بـه هـم کـوم تأثیـرات ولـري.

دا چـې روسـیه د امریـکا لـه مخالفینـو څخـه ده او د نـړۍ یـو پـه لویـو قدرتونـو کـې ده، نـو ممکـن د طالبانـو پـه رسـمیت پېژنـدل بـه دوی تـه یـاد مخالفـت نـور هـم زیـات کـړي او د نړیوالـو لـه نـورو غندنـو او فشـارونو سـره بـه مـخ شـي.

پـه سـیمه کـې او بیـا پـه ځانګـړي ډول د منځنـۍ آسـیا هېوادونـو بانـدې بـه لـوی اغېـز وکـړي او ممکـن د روسـیې دغـه اقـدام تـه پـه کتـو د سـیمې نیـږدې او د روسـیې تـر اغېـز لانـدې هېوادونـه هـم ورتـه قـدم پورتـه کـړي.

روسـیه بـه پـه یـاد رسـمیت د خپـل نفـوذ پراخولـو، جیوپولیټیکـي حیثیـت جوړولـو او همـدا راز د امریـکا او لوېدیـځ د نفـوذ پـر وړانـدې د یـو ځـواک پـه حیـث وکاروي او هغـه نفـوذ، چـې امریـکا یـې پـه سـیمه کـې د لټـې پـه درشـل کـې ده، مخـه ډب کـړي، کـه څـه هـم د اسـلامي امـارت د سیاسـت پالیسـي متوازنـه ده!

د افغانسـتان او اسـلامي امـارت لپـاره کـه پـه ریښـتینې معنـی وکتـل شـي، نـو لومـړی ګټـه دا چـې د سیاسـت پـه ډګـر کـې دا یـوه سـتره بریـا او پرمختـګ دی، لـه سـترې انـزوا څخـه هـم سـاتل کېـږي، ممکـن روسـیه لـه افغانسـتان سـره اقتصـادي، ټرانزیټـي، د سـرکونو جوړولـو، انـرژۍ تولیـد او نـورو برخـو، لکـه کانونـو اسـتخراج، تېلـي زېرمـو، غنمـو او وسـلو برخـه کـې د رسـمیت لـه لارې همـکارۍ تـه را وړانـدې شـي، د سیاسـت ډګـر او برخـه لا قـوي کېـږي او هغـوی چـې پـر دغـه مېـز یـې بـاور نـه کېدلـو هـم بـاوري کېـږي، همـدا راز یـو نړیـوال مشـروعیت هـم ترلاسـه شـو، نـورو هېوادونـو تـه د رسـمیت پېژندلـو لپـاره یـو فرصـت او موقـع هـم پـه لاس ورغلـه او داسـې نـورې ګټـې، چـې افغانسـتان او اسـلامي امـارت تـه مهمـې دي او د وخـت سـتره اړتیـا هـم ده، ترلاسـه شـي.

پـه سـیمه کـې د نـورو هېوادونـو لپـاره هـم د اسـلامي امـارت لپـاره د روسـیې لـه لارې پـه رسـمیت پېژنـدل ګټـه کـوي، پاکسـتان او ایـران بـه لـه دې وروسـته ممکـن محتـاط قـدم واخلـي او د رسـمیت پـه اړه بـه هـم ژور او پـراخ فکرونـه وکـړي او همـدا راز چیـن چـې پـه دغـه محـور ورګـډ دی، یـوې پرېکـړې تـه ورسـېږي او رسـمي موقـف بـه غـوره کـړي، ځکـه د چیـن لپـاره دا اړیکـې او بـلاک ډېـر مهـم دی، کـه څـه هـم د اسـلامي امـارت پالیسـي لـه ټولـو سـره د یـو متـوازن سیاسـت او اړیکـو پـر محـور څرخـي او یـاد رسـمیت بـه د اسـلامي امـارت لپـاره ځینـې ننګونـې هـم راپورتـه کـړي، چـې څنګـه خپلـې اړیکـې او خپـل سیاسـت لـه نـورې نـړۍ سـره متـوازن وسـاتي، د نجونـو د ښـوونځیو، د ښـځو د کار او ځینـو نـورو برخـو کـې بـه فشـارونه او فرمایشـات زیـات شـي، خـو وخـت تـه پـه کتـو بـه اسـلامي امـارت لا هـم محتاطانـه قـدم واخلـي او لا بـه خپـل سیاسـت تـه تدریجـي تـګ ورکـړي او د هېـواد پـه پرمختـګ او آبـادۍ کـې بـه سـتر رول ولوبـوي.

د لا بریا په هیله.

افغان اعلانات

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شـرکت حسـیب صدیقی لمتید یک عراده موتر پلیـت ۲۶۹۴۹-۲ ش کابل نوع تیوتا کـرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحـل قانونی خرید و فروش بالای صحبت خان فرزند عبدالروف بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسسـاتی که با عراده فوق کدام معامله داشـته باشند الی مدت سـه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۰

***

اطلاعیه فروش موتر

اسـامی محترم شـرکت برادران صدیقی لمتید یـک عراده موتر پلیـت ۴۶۵۹۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کـرولا هایس خویش را بعـد از طی مراحل قانونی خرید و فـروش بالای محمد جاوید فرزند آقا جان بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسسـاتی که با عراده فوق کدام معامله داشـته باشند الی مدت سـه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شـرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۹۳۲۸-۲ ش کابـل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحـل قانونی خرید و فروش بالای غـلام رضا فرزند نور علی بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسسـاتی که با عراده فوق کدام معامله داشـته باشند الی مدت سـه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۱۹۳

***

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت تجارتی به اسـم سـید نظیف صافی فرزند عبدالسلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۲۱۷۲

***

موضوع: اعلان داوطلبی

دعوت بـرای داوطلبی بـاز ملی: پروژه ترمیم ایـزوکام بام های تعمیر مرکز وزارت معارف وریاسـت خدمات، امـور رنگمالی دو اتاق موظفیـن امنیتی مهمان خانه معـارف واقع کارته چهار مربوط ریاسـت خدمات، نصب پارتیشـن پی وی سـی مربوط ریاست حفظ ومراقبت واملاک ومکاتب واقع کارته چهار، ترمیم تشناب های منزل اول ودوم ترمیم سیستم برق ریاست، حفر چاه سـپتیک سایز کوچک ترمیم ساحه سـبز ریاست حفظ ومراقبت املاک ومکاتب مطابق بل احجام کاری بابت سال مالی ۱٤۰٤ MOE/W-003//NCB وزارت معـارف از تمـام داوطلبـان واجد شـرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه ترمیم ایزوکام بام هـای تعمیر مرکـز وزارت معارف وریاسـت خدمات، امور رنگمالی دو اتاق موظفین امنیتی مهمان خانه معارف واقع کارته چهار مربوط ریاست خدمات، نصب پارتیشن پی وی سی مربوط ریاست حفظ ومراقبت واملاک ومکاتب واقع کارته چهار، ترمیم تشناب های منزل اول ودوم ترمیم سیستم برق ریاست، حفر چاه سـپتیک سایز کوچک ترمیم ساحه سـبز ریاست حفظ ومراقبت امـلاک ومکاتب مطابـق بل احجـام کاری بابت سـال مالی ۱٤۰٤وزارت معارف اشـتراک نموده و شـرطنامه مربوطه را در حافظه یا فلش دسـک از ریاسـت تدارکات وزارت معارف ویا سـایت اداره تدارکات ملـی https://tenders.ageops.af به دسـت آورده آفرهای خویش را مطابق شـرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسـته از تاریخ نشـر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰قبل ازظهر روز پنچشنبه ٥ اسد ۱٤۰٤, به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، غازی محمد جان خان وات ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل قبول نمیباشـد. تضمین آفر بصورت تضمین بانکی و یا پول نقد به مبلغ ٤٦۰۰۰ چهل و شـش هزار افغانی بوده جلسه آفرگشایی به روز پنچشـنبه ٥ اسد ۱٤۰٤, سـاعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف تدویر میگردد

***

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی

عنوان پروژه (تهیه و تدارک ۱۰۳ قلم قرطاسـیه باب و رنگ باب مورد ضرورت ریاسـت اداری وخدمات بابت سال مالی ۱٤۰٤ با اسـتفاده از روش داوطلبی با ز ملی به اساس قرارداد بالمقطع) وزارت فواید عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسـه داوطلبی پروژه (تهیه و تدارک قرطاسیه باب و رنگ باب ریاست اداری وخدمات بابت سـال مالی ۱٤۰٤بااستفاده از روش داوطلبـی با زملی به اسـاس قـرارداد بالمقطع) دارای نمبرتشخصیه MOPW/1404/G-20/NCB میباشد اشتراک نمـوده و آفرهـای سربسـته خویـش را مطابق شـرایط مندرج شرطنامه بعد از نشر اعلان ارائه نماید.

آدرس حصـول شـرطنامه از آمریت تدارکات اجناس ریاسـت تدارکات وزارت فوایـد عامه، واقع چهاراهـی صدارت وزارت داخله سـابقه، جوار اداره ملی احصائیـه و معلوماتی روی فلش میموری بدسـت آورده و تسـلیمی آفرها بتاریخ (۱٤۰٤/۰٥/٤ سـاعت ۱۰:۰۰ قبـل از ظهر کـه آخرین میعـاد ضرب الاجل تسـلیمی آفر ها می میباشـد، صورت میگرد آفرها دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفر: به شـکل بانک گرنتی/ مبلـغ ۱٤٥,۰۰۰یک صدو چهل و پنج هزار افغانی میباشد.

زمان آفرگشایی: (۱٤۰٤/۰٥/٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر)

محل آفرگشایی: وزارت فواید عامه.

نـوت: درصورتیکه تاریخ (۱٤۰٤/۰٥/٤ سـال جاری بطور غیر مترقبه از طرف حکومت رخصتی اعلان گردد جلسـه آفرگشایی پـروژه متذکره روز بعـدکاری در همان سـاعت و مکان مندرج مکتوب هذا برگزار میگردد.

***

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم شمس الدین اکاخیل فرزند عبدالشکور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۶۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم تسـل محمود بنت محمد طاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۶۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم عصمت الله تره خیل فرزند گلا خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۷۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سـید هارون میرزایی فرزند سید رسول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۷۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم مختار یوسفی فرزند جمعه خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۷۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم شـهاب الدین بیگی فرزند محمد حسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۷۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم عبید الله فقیری فرزند گل رحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۷۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسـم فضل احمد یعقوبی فرزند محمد صدیق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۲۳۸۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سرور خان مومند فرزند دور مرجان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۱۷۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالقادر نوری فرزند عبدل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۱۷۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم عبدالرحیم حیدری فرزند خدایداد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۱۷۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم نواز شـریف خدای بنده فرزند احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۱۷۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسـم اختر گل خوگیانی فرزند رمضان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۴۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم ذکیه خان بنت گل رحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۱۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسـم نرگس همتی فرزند غلام رسول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۲۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بازگل سلامی فرزند سید گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۲۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم سـید جلیل شیرزاد فرزند سید میر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۲۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم عبدالقدیر رشیدی فرزند فقیر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۲۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم امر الله محمدی فرزند حضرت خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۲۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم تاج محمد ستانکزی فرزند علی جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم محمد یونس اکبری فرزند رجب علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۲۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم نبی الله سادات فرزند گل نبی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۲۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امر الله آریا فرزند عطاء الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۲۳۰۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد رضاء قلندری فرزند آدینه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۰۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم سونیاء یوسفزی بنت نصیرا حمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم برشـنا یوسفزی بنت طلا محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم عبدالناصر صدیقی فرزند عبدالظاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم زینت معمار بنت محمد نادر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم مشـعل نجات بنت محمد رامین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم زهره نجات بنت محمد رامین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسـم محمد ظاهر فرزند غلام دستگیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم خان زمان سیدی فرزند گل زاده مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم عزیز الله نجفی فرزند سلمانعلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۲۳۳۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم آسـیه صافی بنت یاردل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم محمد عمر خان صافی فرزند درا خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۲۳۹

اطلاعیه مفقودی

یـک جلـد پاسـپورت سـیاحتی بـه اسـم محمـد نصیـر بیکـزاد فرزنـد محمد کریـم مفقود گردیـده از اعتبار سـاقط می‌باشد. ۱۳۲۴۰

بازگشت بیش از ۴ هزار...

مقام‌های مسئول گفته‌اند که برای این مهاجرین، خدمات ابتدایی از سوی کمیته‌های مختلف شامل ثبت، تثبیت هویت، ترانسپورت، امور صحی، مخابرات و کمک‌های مالی فراهم گردیده است.

همچنان پس از طی مراحل ثبت و انجام بایومتریک، برای خانواده‌های بازگشته مقدار معینی پول نقد و سیمکارت توزیع شده و در هماهنگی با اداره‌های ذیربط، برنامه‌هایی جهت انتقال آنان به ولایت‌های اصلی‌شان روی دست گرفته شـده است. این در حالی‌ست که بازگشت مهاجرین افغان از پاکستان و ایران در ماه‌های گذشته شدت گرفته و بسیاری از این خانواده‌ها بدون آمادگی قبلی و در شرایط دشوار وارد کشور می‌شوند.

ننګرهار کې د ۳۰ میګاواره...

ورته مهال د ننګرهار مرسـتیال والي مولـوي عزیزالله مصطفی وایي، اړوند مسئولین هڅه کوي چې د ننګرهار ولایت ګرمې هوا ته په کتو د برېښنا ستونزې هوارې او خلکو ته په منظم ډول برېښنا ورسوي.

د سـیمې صنعتکاران هم دغه پروژه حیاتي بولي او وایي، چې له کلونو راهیسـې داسې پروژو ته په تمه دي. هېره دې نه وي چې له دې سربېره هېواد کې له باد او سـکرو څخه د برېښـنا ترلاسـه کولو پر چارو هم ګړندۍ هڅې دوام لري.

امارت اسلامی متعهد به بازسازی و توسعه ...

بـرای مردم در این منطقه را فراهم شـود. همچنان در این مراسـم شیخ مولانا اسلام جار والی هرات، با ستایش از آغاز کار این پروژه گفت که اداره محلی هرات در تلاش است تا مناطق دور افتاده مانند پشت کوه، از نعمت انکشاف و خدمات اساسی بهره مند شود. وی افـزود: ما به وعده های خود به مـردم وفاداریم و تلاش می‌کنیم با حمایت مرکز و وزارت خانه ها، روند بازسـازی را سرعت بخشیم. همچنان مفتی محمد یوسـف سـعیدی سـخنگوی مقام ولایت هرات، خاطرنشان کرد که فاز نخست پروژه قیر ریزی سرک شیندند - پشـت‌کوه با هزینه ۲ میلیون دالر توسط ریاست فوایدعامه هرات اجرا می شـود که هدف آن بهبود وضعیت ترانسپورتی و تسهیل در رفت وآمد ساکنان ولسـوالی پشت‌کوه می‌باشـد. وی اضافه کرد همزمان کار ساخت تعمیر جدید ولسـوالی پشت‌کوه شین دند به هزینه ۱۹.۵ میلیون افغانی نیز با حضور مسـئولان یاده شـده آغاز شده است.

نوره نړۍ هم باید د روسیې ...

د نـورو حقوقو پـه څېر؛ پـه رسـمیت پېژندنه هم د اسـلامي امـارت خپل ثابت او مشـروع حـق دی، څرنګه چې اسـلامي امـارت له نورې نـړۍ سـره د متقابـل احترام پر اسـاس نېک چلنـد او ښـه تعامـل کـوي او ټولـو مشـروع حقوقـو ته یې غـاړه ږدي، همدغـه راز بایـد هغوی هـم د رسـمیت پېژندنې په ګـډون د اسـلامي امـارت ټولـو حقوقو تـه غـاړه کېږدي. دغه د رسـمیت پېژندنې اقدام باید ډېر پخوا لا ترسره شوی وای، ځکه دا د اسـلامي امارت خپل ثابت حـق دی، خو خیر؛ اوس دې هم د روسـیې کور ابـاد وي، چې دغه واقعیـت یې درک کړ او له ټولې نړۍ وړاندې یې اسـلامي امارت په رسـمیت وپېژاند. اوس باید نوره نړۍ هم دا اخلاقي جرأت وکړي، چې د اسـلامي امـارت د یو منلي حق په توګه د رسـمیت پېژندنـې اعلان ته را وړاندې شـي او د روسـیې لاره خپله کړي. خصوصاً؛ اسـلامي هېوادونـو خو باید تر هر چا وړاندې دا اقدام کړی وای، ځکه چې یقیناً دا د خورا لوی شرم او تأسف ځای دی، چې روسیې اسلامي امارت په رسـمیت وپېژاند او شاید نږدې وخت کې نور هېوادونه هم دې بهیر ته را وړاندې شي، خو د اسلامي نړۍ حاکمان لا هم په غفلت، تردد او ډار کې قرار لري.

برګزاری سیمینار آموزشی...

منابع طبیعی، محیط زیسـت حیوانات وحشی و پرندگان، اهمیت آن ها و خطرات شکار و قاچاق، معلومات ارائه کرد.

او از نهاد های امنیتی خواسـته که در زمینه جلوگیری از شـکار و قاچاق حیوانات وحشـی، ماهی‌ها و پرنـدگان، همکاری لازم را با این اداره انجام دهند.

له روسیې سره د دوه...

او دا یـې د دواړو هېوادونو تر منځ د مثبتو اړیکو، متقابل درناوي او رغېدونکي تعامل نوې مرحله بللې ده.

مولوي امیر خان متقي زیاته کړې، چې د روسـیې فدراسـیون دغه واقعبینانـه پرېکړه به د دواړو هېوادونو د اړیکـو په تاریخ کې د یوه مهم پرمختګ په توګه یاده وي او د نورو هېوادونو لپاره د ورته اقدام لپاره یوه ښه بېلګه رامنځ ته کوي.

د بهرنیـو چارو وزیر زیاتـه کړه، چې له دې اقدام سـره به د دواړو هېوادونو ترمنځ دوې اړخیزې همکارۍ لا پراخې شي.

د افغانستان او ترکیې تر...

پراختیا، د بیړنیو او اړمنو ناروغانو لپاره د ویزې اسانتیاوو برابرولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه خبرې شوې دي.

مولـوي نور جلال جلالـي د ترکیې د روغتیا په برخـه کې له تلپاتو مرستو مننه کړې او دغه مرستې یې د افغانستان د روغتیا سکتور لپاره ګټورې بللي دي.

په کور دننه د روسیې...

خوندي شـي. د کندهـار د اطلاعاتـو او کلتور رییـس مولوي انعام‌الله سـمنګاني ویلي، چې روسـیې له افغانسـتان سـره د تعامـل لپاره اصولي او ډیپلوماتیکـه لاره غوره کړه. نوموړي زیاته کړې، چې دا د اسـلامي امارت د غوره بهرنۍ پالیسـۍ له لاسته راوړنو څخه شـمېرل کېـږي. حافظ انس حقاني د روسـیې لخوا د اسلامي امارت رسـمیت پېژندنې ته په اشـارې سره ویلي، له اسـلامي امارت سره رسمي تعامل یو روښـانه واقعیت دی، چې هېڅوک ترې انکار نه شـي کولای. نوموړي زیاته کړې، د فشـار او لرېوالـي پالیسـي هېڅ پایلـه نه لري او د سـتونزو د حل لپاره یوازینۍ لاره تعامل او خبرې دي. د حکومت د رسنیو مرکز رییس مولوي نعیم‌الحق حقاني ویلي، چې د روسـیې لخوا د افغانستان اسـلامي امارت رسـمیت پېژندنه د متقابل احترام پر بنسـټ د فعالې ډیپلوماسـۍ څرګندونـه کوي. د بدني روزنـې او المپیک ملي کمېټې لوی رییس مولوي احمدالله وثیق د روسـیې حکومت دې اقدام ته په غبرګون کې ویلي، د اسـلامي امارت په رسـمیت پېژندنه یوه لویه لاسـته راوړنه ده. د سیاسي چارو شنونکی ادریس محمدي ځاځي ویلي، چې د روسـیې له لوري د اسلامي امارت رسـمیت پېژندنـه د حکومت په بهرني سیاسـت کې یوه سـتره لاسـته راوړنه ده. د کابل ښـار اوسېدونکي، د روسـیې له لوري د افغانسـتان اسلامي امارت رسـمیت پېژندنې ته په اشارې سره ویلـي، هیله لري چې نور هېوادونه هم ورته اقدام وکړي.

دا غبرګونونه داسـې مهال شوي، چې روسیې په یوه ستر اقدام کې د افغانسـتان اسلامي امارت په رسـمیت وپېژنده او په مسکو کې د افغانستان د سـفارت پر ودانۍ د اسـلامي امارت رسمي بیرغ هم رپاند شو.

برخورد با مهاجران افغان...

که مرتکب جرایم شده‌اند، گفت‌وگو کند.

امارت اسلامی می‌گوید که هرگونه اقدام در مورد مهاجران افغان باید با درنظر گرفتن کرامت انسـانی، احترام به حقوق شهروندان افغـان و هماهنگی با حکومت فعلی صورت بگیرد.

در ماه‌هـای اخیر، افزایش فشـارها بر مهاجـران افغان در برخی کشـورهای اروپایی، به‌ویژه آلمان، واکنش‌های گسـترده‌ای را در داخل و خارج از کشور برانگیخته است.

د غوري سمنټو تولیدات...

او د دې ملي شـتمنۍ اقتصادي پیاوړتیا کې ونده واخلي. د یادونې وړ ده، چـې اوس په یاد ولایت کې دوې کارخونـې فعالې دي او ټاکل شوې، چې د درېیمې کارخونې د جوړولو چارې به ډېر ژر پیل شي.

هرات کې هره ورځ پر زرګونو...

په خبرپاڼه کې راغلي، چې دغه پروګرام د اسلام‌کلا بندر په صفري نقطه کې پیل شوی؛ د ورځې پنځه‌زره راستنېدونکو ته د وریجو، غوښې، قورمې په ګډون د ګرمو خوړو او سړو اوبو بستې په کې وېشل کېږي. سـرچینې د دغه اقدام موخه د بېرنیو مرسـتو چمتو کول، د انساني کرامت ساتل او په راستنېدو کې د کډوالو د سختو شرایطو له امله د رامنځته شویو فشارونو کمول ښودل شوي دي.

خـوست کې د آسیا پـه...

وبلله او ویـې ویل چې دغه کمپلیکس د یوه تـن هېوادوال نجیب تلاش د خیریه بنسـټ لخـوا جوړېږي، چې په کې بـه د فوټبال، والیبال، ټېنیس او جیم لوبغالي جوړ شي، همدا شان به یاد ورزشي مرکز دفترونه، شـنه ساحه، جمنازیوم، مدرسه او ځینې نورې اړینې اسانتیاوې هم ولري، چې په یادو برخو کې به د هېواد سیمې او نړۍ په کچه د سیالیو کوربه توب وکولی شي.

د یادونې ده، چې دغه ورزشـي کمپلیکس به په نړیوالو او اساسـي معیارونو د جوړولو ټول لګښـت د همدې خیریه بنسـټ له لوري ورکول کېږي، چې چارې به یې د ۱۴ میاشـتو پـه موده کې پای ته ورسېږي.

Shariat
Daily

شریعت

د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ /۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

Saturday 05 July 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 794

له روسیې سره د دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا نوی ګام

د افغانستان اسلامي د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د روسیې فدراسیون له سفیر دیمیتري ژیرنوف سره کتلي دي.

د بهرنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، چې د روسیې سفیر په دې کتنه کې د روسیې د حکومت هغه پریکړه رسماً ابلاغ کړې، چې پر بنسټ یې د روسیې فدراسیون د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژني.

یاد سفیر همدارنګه د دې پرېکړې اهمیت په ګوته کړی او دا یې د افغانستان او روسیې تر منځ د اړیکو د پیاوړتیا لپاره تاریخي ګام بللی دی.

په ورته وخت کې د بهرنیو چارو وزیر د روسیې فدراسیون د دغې پرېکړې هرکلی کړی ... ۳مخ

استقبال چین از به رسمیت شناختن امارت اسلامی توسط روسیه

وزارت امور خارجه چین از به رسمیت شناختن امارت اسلامی توسط روسیه استقبال کرده و گفته که این کشور از تقویت بیشتر روابط میان افغانستان و جامعه جهانی حمایت می‌کند.

ماو نینگ، سخن‌گوی وزارت امور خارجه چین در پاسخ به پرسش‌های خبرنگاران گفت، چین معتقد است که افغانستان نباید از جامعه بین‌المللی کنار گذاشته شود.

وی افزوده که چین بدون در نظرداشت شرایط، همیشه روابط دیپلوماتیک خود را با افغانستان حفظ کرده است.

دولت روسیه روز گذشته امارت اسلامی افغانستان را به رسمیت شناخت، که این اقدامی بزرگ از سوی امارت اسلامی با استقبال گرم همراه شد.

دوحه کې د نشه یي توکو پر وړاندې د ۱.۱.۱ مبارزه وستایل شوه

د کورنیو چارو وزارت وايي، د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه د دوحې وروستۍ غونډه کې ګډون کوونکو هېوادونو افغانستان کې د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزې برخه کې تازه ژمنې ورکړې دي.

د کورنیو چارو وزارت ویاند مفتي عبدالمتین قانع ویلي، د ملګرو ملتونو په مشرۍ دغې دوه ورځنۍ غونډه کې د نشه یي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت د مبارزې هرکلی وشو او هېوادونو ژمنه وکړه، چې دې برخه کې به له اسلامي امارت سره همکاریو ته دوام ورکړي.

قطر کې د یوناما په مشرۍ دوه ورځنۍ غونډه کې د ۲۹ هېوادونو استازو ګډون کړی و.

د افغانستان او ترکیې تر منځ په یو شمېر موضوعاتو خبرې وشوې

د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې افغانستان لپاره د ترکیې له سفیر ښاغلي جنک اونال سره کتلي.

په دې لیدنه کې د افغانستان او ترکیې تر منځ د روغتیایي همکاریو، د افغان علمي کادرونو د ظرفیت لوړونې، د کابل اتاترک روغتون خدماتو پر ... ۳مخ

ننګرهار کې د ۳۰ میګاواره کپسیټور بانک د نصبولو چارو پیل

په ننګرهار کې د برېښنا ولتاژ د تنظیم، د انرژۍ د ضایعاتو کنټرول او صنعتي شبکو ته د باثباته برېښنا د برابرولو په موخه ننګرهار همیشه بهار سب سټېشن کې د ۳۰ میګاواره کپسیټور بانک د نصبولو پروژې چارې پیل شوې.

په جوړو شویو مراسمو کې د افغانستان د برېښنا شرکت اجرائیوي رییس ډاکټر عبدالباري عمر ویلي، چې یاده پروژه د شاوخوا ۶۰ میلیونه افغانیو په لګښت د ۸ میاشتو په موده کې پلي کېږي. ۳مخ

برگزاری سیمینار آموزشی محیط زیست برای صدها پولیس در میدان وردگ

کارگاه آموزشی در رابطه به حفاظت محیط زیست و جلوگیری از شکار، برای صد ها تن پولیس در میدان وردک برگزار شد.

به گزارش خبرنگار آژانس باختر؛ در آغاز این کارگاه، مولوی الله محمد ذاکر رییس اداره حفاظت محیط زیست میدان وردک، گفت که این برنامه با هماهنگی مسئولان مرکز آموزشی پولیس این ولایت، برای ۷۰۰ تن پولیس از ولایت های مختلف برگزار شده است.

وی افزود که در این برنامه در مورد ارزش‌های محیط زیست، اهمیت منابع طبیعی و جلوگیری از شکار و قاچاق حیوانات وحشی بحث صورت می گیرد.

او گفت: منابع طبیعی دارایی‌های ملی کشور است و حفاظت از آن یک مسئولیت دینی، وجدانی و ملی ما است.

مولوی ذاکر خاطرنشان کرد: همه محافظان امارت اسلامی باید حس مسئولیت عمیق داشته باشند تا در هر نقطه کشور از شکار و قاچاق حیوانات وحشی و تخریب منابع طبیعی جلوگیری شود.

وی از اشتراک‌کنندگان خواست که در راستای حفاظت از طبیعت، حیوانات، ماهی‌ها و پرنده ها، اقدامات عملی و مؤثری روی دست گیرند.

همچنان در این برنامه مدیر عمومی میراث های طبیعی اداره حفاظت محیط زیست این ولایت، در مورد ارزش...ص۳

بازگشت بیش از ۴ هزار مهاجر افغان به کشور

کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین اعلام کرده است که در روزهای اخیر، بیش از چهار هزار خانواده مهاجر افغان از کشورهای همسایه، به‌گونه اجباری به افغانستان بازگردانده‌شده‌اند.

بر اساس معلومات این نهاد، شمار مجموعی این خانواده‌ها به ۴ هزار و ۸۸ خانواده می‌رسد که شامل ۱۴ هزار و ۷۳۵ تن می‌باشند. روند بازگشت این افراد از مسیرهای مرزی تورخم در ننگرهار، سپین‌بولدک در کندهار، اسلام‌قلعه در هرات، گذرگاه ابریشم در نیمروز و انگور اده در ولایت پکتیکا صورت گرفته است. ص۳

اروپا کې ګرمۍ ریکارډونه جوړ کړل

په اروپا کې د ګرمۍ روانې څپې ریکارډونه مات کړي او اندېښنې یې راپارولې دي، ځکه چې د دې لویې وچې په ځینو برخو کې تودوخه د سانتي ګراد تر ۴۰ درجو اوښتې ده.

په داسې حال کې چې اکثره اروپايي هېوادونه په تېره بیا جنوبي سیمې توده هوا تجربه کوي، په ترکیه کې اقلیمي شرایط سبب شوي چې ځنګلونه اور واخلي. دې اورونو د یوه ۸۱ کلن سړي ژوند هم اخیستی دی.

۳۷ کلیوال د بېړنیو مرستو د ټیمونو له خوا خوندي وژغورل شول. سلګونه اوروژونکي، چې الوتکې او هېلیکوپترونه یې ملاتړ کوي، د پنجشنبې په ورځ د ترکیې ساحلي ښار چشمه (Cesme) ته د اور وژنې لپاره واستول شول.

ترکیې تېره اونۍ د هېواد په کچه د سلګونو لګېدلو اورونو د وژلو هلې ځلې کړې، چې د تودو بادونو، شدیدې ګرمۍ او تېټ رطوبت له امله رامنځته شوي وو. دا اورونه، چې ډېری یې اوس مړه شوي، لسګونه زره کسان له خپلو سیمو وتلو ته اړ کړي دي.

ټرمپ: حماس دې خپل دریځ روښانه کړي

د امریکا ولسمشر ډانلډ ټرمپ وايي، تمه لري چې حماس به په ۲۴ ساعتونو کې د غزې د ۶۰ ورځني اوربند د طرحې په تړاو د خپلې هوکړې خبر ورکړي.

ټرمپ دغه طرحه حماس ته خپل وروستي وړاندیز بللی دی.

د رویټرز د راپور لمخې، ټرمپ ویلي، له سعودي عربستان سره یې د ابراهم تړون د غځولو په تړاو هم خبرې کړې دي.

د ابراهم تړون د ټرمپ په لومړۍ دوره کې د سعودي عربستان او اسراییل د اړیکو عادي کولو په موخه رامنځته شوی دی.

د امریکا ولسمشر له دې وړاندې ویلي و، چې اسراییل د اوربند طرحې ته غاړه ایښې خو د حماس هوکړې ته په تمه دي.

جرمني کې یوه سوري وګړي پر خلکو برید کړی

د جرمني په جنوب کې د اورېده واټن په یوه ریلګاډي کې یوه تن د پنجشنبې په ورځ څلور کسان په څټک برسېرن ټپیان کړل.

د شتراوبینګ پولیسو ویلي دا پېښه په ICE چټک ریلګاډي کې شوې او حمله کوونکی نیول شوی دی.

ریلګاډی د جرمني له شمالي ښار هامبورګ څخه د اتریش پلازمېنې ویانا ته روان و او دغه پېښه د بایرن ایالت په جنوبي برخه کې د شتراوبینګ او پلاتلینګ ترمنځ شوې ده.

پولیسو زیاته کړه، د برید په مهال په ریلګاډي کې شاوخوا ۵۰۰ کسان سپاره وو. همداراز پولیسو ویلي، شاوخوا ۱۵۰ پولیس، اور وژونکي او بېړني کارکوونکي سیمې ته واستول شول. د دې پېښې له کبله ریللار تړل شوې ده.

تراوسه پورې د دې برید انګېزه نه ده څرګنده شوې. خو پولیس وايي چې بریدګر ۲۰ کلن او د سوریې تبعه دی.

د ایران په اړه د سعودي او امریکا پټې خبرې

فاکس نیوز چینل وايي چې د سعودي عربستان دفاع وزیر، د پنجشنبې په ورځ، په پټه د امریکا له ولسمشر ډونالډ ټرمپ او نورو امریکايي چارواکو سره په سپینه ماڼۍ کې لیدلي او د ایران په اړه یې خبرې کړې دي.دې شبکې د باوري سرچینو له قوله لیکلي چې خالد بن سلمان د سپینې ماڼۍ له چارواکو سره د ایران او اسراییل ترمنځ د تاوتریخوالي د کمولو او د خبرو مېز ته د تهران د بېرته راګرځېدو په اړه خبرې کړې دي. فاکس نیوز ویلي، د سعودي دفاع وزیر همدا راز د غزې جګړې د پای ته رسولو او له حماس ډلې سره د نیول شویو ټولو اسراییلي یرغملو د خلاصون لپاره د هڅو په اړه هم بحث کړی دی.

د «اکسیوس» ویب‌پاڼې خبریال، باراک راوید، هم په ایکسپانه (پخواني ټویټر) لیکلي چې د سعودي دفاع وزیر له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره تر لیدو وروسته، د ایران د وسله‌والو ځواکونو له لوی درستیز سره ټلیفوني تماس نیولی دی.

خالد بن سلمان، چې د سعودي د ولیعهد محمد بن سلمان کشر ورور دی، د روان کال په اپرېل کې ایران ته سفر کړی و او د علي خامنه یي په ګډون یې د ایران د اسلامي جمهوریت له یو شمېر چارواکو سره، لیدلي وو.